# خبرپانه

# د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام

UNDP

**۱۲ وري ۱۳۸۵**

## ۱۸۹,۱۶۳ ځمکني ماينونه او ۱۰,۰۷۱ ټنه ناکاره مهمات په افغانستان کې له منځه وړل شوي

### په دې ګڼه کې


د افغانستان د نوي پيل پروګرام: د پرسونل ضد ماينونو او د مهماتو د ذخيرو د له منځه وړلو په هکله لنډ معلومات ۱

د معلوماتو د ادارې د خدمتونو د پروژې د جغرافيايي معلوماتو د سيستم (GIS) په کارونه کې د استثنايي کار لپاره جايزه تر لاسه کړه ۳

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پراختيايي اداره په سيمه ييزو ستراتيژيکو پروګرامونو کې د مدني ټولنې د ګډون ملاتړ کوي ۴

خصوصي سيکتور د معلولينو ملاتړ کوي ۵

د ستني له لارې د نشه يي توك د استعمالوونکو په منځ کې د ايچ.آی.وي/ايډز خوريدل د يوې ستري خوريدنې مخکنۍ ګام دی ۵

د ملګرو ملتونو د رضاکارانو د کار په هکله يو څو ټکي ۶

د ملګرو ملتونو پراختيايي اداره له دولت سره د پارلمان او ملکي خدمتونو له ملاتړ څخه نيولي د اشارې ژبې تر پراختيا پورې ګډ کار کوي ۷


د زمري پر ۲۱مه نېټه د پرسونل ضد ماينونو او ناکاره مهماتو د ذخيرو د له منځه وړلو د پروژې (چې د مهماتو د پروژې په نامه هم يادېږي) مشرتابه ګروپ په کابل کې د دفاع په وزارت کې غونډه وکړه. دغه ګروپ يو لړ مسايل تر خبرواترو لاندې ونيول لکه د ۲۰۰۷م کال تر جون پورې د مهماتو د يو اضافي مرکزي ډيپو بشپړول او د مهماتو د تخنيکي افسرانو په نوي جوړ شوي کورس کې، چې د ملي اردو سرتيرو ته د ماينونو د ذخيره کولو په برخه کې ښوونه کوي، د لازياتو شاګردانو روزنه. د مشرتابه ګروپ چې په هرو دريو مياشتو کې غونډه کوي د کاناډا سفير او د افغانستان د دفاع وزير يې په ګډه رهبري کوي.



د مشرتابه ګروپ د افغان دولت او د ملګرو ملتونو د پراختيايي اداري تر منځ د پرسونل ضد ماينونو او د ناکاره مهماتو د ذخيرو د له منځه وړلو د پروژې تر لاسليکېدو (جولای ۳۱ ۲۰۰۵) وروسته جوړه شوه. د دغې دوه کلنۍ پروژې له مخې به هغه مهمات چې د وړلو وړ وي خونديو ځايونو ته ولېږدول شي او پاتې ناکاره مهمات او ټول ماينونه به له منځه يوړل شي.

د ۲۰۰۵م کال په جنوري کې د ازميښتي پروژې له پيل راهيسې، د افغانستان د نوي پيل پروګرام تر ځارنې لاندې د مهماتو ۱,۱۳۰ ساتنځي سروې شوي او ۱۸۹,۱۶۳ پرسونل ضد او ۱۲۴۷۵ د ټانك ضد ماينونه له منځه وړل شوي دي. په داسې حال کې چې د ماينونو او مهماتو ذخيرې سلګونو زره ټنو ته رسيږي، په افغانستان کې د مهماتو د اوسني حالت په هکله د توجيه وړ انديښنې شته. ډېره برخه يې چې سم نه ساتل کېږي، په ناخونديو ځايونو او د اوسيدو په سيمو کې پراته دي.

دغه پروژه همدارنګه له افغان دولت سره د پرسونل ضد ماينونو د کاروني، ساتني، توليد او لېږدوني د ممانعت او له منځه وړلو په هکله د لاسليك شوي تړون د يو برخې وال دولت په توګه د ماينونو د له منځه وړلو د مکلفيت د پوره کولو په برخه کې مرسته کوي. افغانستان د ۲۰۰۳م کال د مارچ پر لومړۍ نېټه د دغه تړون له لاسليك کولو سره ژمنه کړې چې په څلورو کلونو کې به پر پرسونل ضد ماينونو بشپړ بنديز لګوي او د ۲۰۰۷م کال د فبرورۍ تر ۲۸مې نېټې پورې به ټولې ذخيرې له منځه وړي.

که څه هم دغه پروژه د افغانستان د نوي پيل د پروګرام پر مټ پلي کېږي، د دفاع وزارت يې وروستنی مسؤليت پر غاړه لري. ټول لګښت يې ۱۶ مليونه امريکايي ډالره دی او د کاناډا دولت د ۵,۱ مليونه ډالرو له مرستې سره د دغې پروژې تر ټولو ستر مرسته ورکوونکی دی.

## د افغانستان د نوي پيل پروګرام: د پرسونل ضد ماينونو او د مهماتو د ذخيرو د له منځه وړلو په هکله لنډ معلومات

په جولای ۲۰۰۵م کال کې د ټول هېواد په کچه د پرسونل ضد ماينونو او ناکاره مهماتو د له منځه وړلو کار هغه وخت پيل شو چې افغان دولت او د ملګرو ملتونو پراختيايي اداري د پرسونل ضد ماينونو او ناکاره مهماتو د ذخيرو د له منځه وړلو په هکله يو تړون لاسليك کړ. د دغې دوکلنۍ پروژې له مخې هغه مهمات چې خونديو ګڼل کېږي خونديو ساتنځايونو ته وړل کېږي او پاتې ناکاره مهمات او ټول ماينونه له منځه وړل کېږي.

دغه پروژه همدارنګه له افغان دولت سره د پرسونل ضد ماينونو د کاروني، ساتني، توليد او لېږدوني د ممانعت او له منځه وړلو په هکله د لاسليك شوي تړون (اوټاوا) د يو برخه وال دولت په توګه د ماينونو د له منځه وړلو د مکلفيت د پوره کولو په برخه کې مرسته کوي. افغانستان د ۲۰۰۳م کال د مارچ پر لومړۍ نېټه د دغه تړون له لاسليك کولو سره ژمنه کړې چې په څلورو کلونو کې به پر پرسونل ضد ماينونو بشپړ بنديز لګوي او د ۲۰۰۷م کال د فبرورۍ تر ۲۸مې نېټې پورې به د ماينونو ټولې ذخيرې له منځه وړي. د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت به د دفاع وزارت د پرسونل ضد ماينونو د له منځه وړلو د رپوټ د ارتيا په ګډون د اوټاوا د کنوانسيون له مکلفيتونو سره برابر ساتي.

**مرستندويان**

د دغې دوه کلنۍ پروژې ټول عملياتي لګښت ۱۶ مليونه امريکايي ډالره دی.

- د کاناډا دولت (۵,۱ مليونه امريکايي ډالر)
- برتانيا (۳ مليونه امريکايي ډالر)
- د اروپا کمېسيون (۱,۸ مليونهامريکايي ډالره)
- د افغانستان د ماليې وزارت (۰,۵ مليونه امريکايي ډالر) او
- د ملګرو ملتونو پراختيايي اداره (۰,۵ مليونه امريکايي ډالر)

پورتني مهم مرستندويان دي او د نورو تر څنګ له هالند او ناروې څخه هم ژمنې ترلاسه شوي دي.

دغې پروژې همدارنګه د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت د جګړې د پاتېشونکيو له پروګرام څخه جنسي مرستې ترلاسه کړې دي.

**پروژه کله پيل شوه؟**

د ۲۰۰۴م د ډيسامبر پر ۲۳مه نېټه د دفاع وزارت او د افغانستان د نوي پيل پروګرام په ټول هېواد کې د مهماتو د سروې د ترسره کولو په هکله تړون لاسليك کړ. د مهماتو د سروې يوه ازميښتي پروژه د جنورۍ په لومړۍ اونۍ کې په مزارشريف او هرات کې پيل شوه. د سروې موخه دا وه چې لاندې

شیان معلوم کړي:

- د مهماتو اوسنی ذخیري چېرته دي او مقداري یې څومره دی؟
- ایا مهمات د کارولو وړ دي او په خوندي ځای کې ساتل کېږي که نه؟
- ایا د کارولو وړ مهمات باید محفوظ او خوندي ځای ته ولېږدول شي که نه؟

**د پرسونل ضد ماینونو او مهماتو اوسنی پروګرام څنګه کار کوي؟**

د مهماتو د سروې ټول ټال نهه ټیمونه د افغانستان په ټولو سیمو کې کار کوي. له غورځول شویو مهماتو، چې په عمومي توګه یې ساتنه نه کېږي، په نامحفوظو ځایونو کې پراته دي یا د خلکو د استوګنې په سیمه کې ساتل کېږي، چې دغه کار بوګنوونکي غمیزې رامنځته کړي لکه د ۲۰۰۴م په مې کې د بغلان ولایت په یوه پېښه کې د مهماتو د ذخیرې چاودنې چې د بیګا د کلي په یو کور کې وشوه ۲۸ کسان ووژل او ۷۰ یې ټپیان کړل. دغه اضافه پاتې مهمات حکومت ته د پام وړ لوجیستیکي او حفاظتي ستونزې او په عیني وخت کې په افغاني او نړیوالو کړیو کې امنیتي اندېښنې رامنځته کوي. د ناچاودېدلیو توکو څخه ژوندي پاتې شوي خو معلول دي یا په بل عبارت د ټولو معلولینو نږدې اوو فیصده جوړوي.

**کله چې مهمات کشف او سروې شي څه پېښېږي؟**

هغه مهمات چې په ښه حالت کې وي او خوندي ګڼل کېږي او باید ولېږدول شي د افغانستان د نوي پیل پروګرام له خوا د مهماتو د راغونډولو هغه ټاکلي ځي ته لېږدول کېږي چې د دفاع له وزارت سره پرې موافقه شوې وي. په داسې ځایونو کې د کورنیو برخه والو خواوو او د ملګرو ملتونو د ادارو له خوا لا له وړاندې ځای پرځای شوې دي. په ځانګړې توګه دغه څخه د ناقانونه وسله والو ډلو د ړنګولو له مهم نوښت سره تینګه اړیکه لري، چې د پرسونل ضد ماینونو او مهماتو د ذخیرو د له منځه وړلو له پروګرام سره غاړه په غاړه کار کوي. د ناقانونه وسله والو ډلو د ړنګولو پروګرام د ماینونو او مهماتو هغه ذخیر نیسي چې د دغې پروژې دننه له منځه وړل کېږي.

د ۲۰۰۶م کال د جولای تر ۲۲مې نېټې پورې ۲۴۱۸۲ میله درندې او سپکې وسلې، ۲۰۹۳۵ په صندوقو کې بندې مرمۍ او ۱۹۶۸۴۰ له صندوقونو وتلې مرمۍ د افغانستان د نوي پیل پروګرام د ناقانونه وسله والو ډلو د ړنګولو د پروژې د وسلو راغونډولو ټیمونو ته سپارلې شوي دي.

**۱ جنوري ۲۰۰۵ ـ ۱۳ اګست ۲۰۰۶**

| د مهماتو د ۱،۰۶۱ سروې شویو ذخیرو له مخې | | |
|---|---|---|
| ټول ناچاودېدلي مهمات په ټنو | په صندوقو کې بند مهمات | پرانیستي مهمات |
| ۱۸۹،۱۶۳ | ۱۲،۴۷۵ | ۱۰،۰۷۱ |

| تخریب شوي ماینونه او مهمات | | |
|---|---|---|
| د پرسونل ضد ماینونه (داني) | د ټانک ضد ماینونه | پرانیستي مهمات |
| ۱۸۹،۱۶۳ | ۱۲،۴۷۵ | ۱۰،۰۷۱ |

دغو ډلو سره یو د پلي کوونکو شریکانو له خوا یا هالو ټرسټ او یا د UXB (چې د وسلو او چاودېدونکو پاتېشونکو خدمتونه وړاندې کوي) تخنیکي مرسته کېږي. د دې برسېره، د دفاع وزارت دوه کارکوونکي له هرې ډلې سره د سروې او نویو ذخیرو د بیا کتنې په برخه کې مرسته کوي.

**څوک د پروګرام څارنه کوي؟**

د دفاع وزارت، د افغانستان د دولت په استازیتوب، بالاخره د پرسونل ضد ماینونو او ناکاره مهماتو د له منځه وړو د پروژې مشرې په غاړه لري. د دې پروژې په ملاتړ کې به د ملګرو ملتونو پراختیایي اداره د افغانستان د نوي پیل پروګرام له لارې د پروژې په هکله د ریپوټ ورکولو او کارېدونکو منابعو د ثابتې ساتنې په ګډون د پروژې د مدیریت او د پلي کولو د کار اړوندو اداري فعالیتونو د ترسره کولو مسؤلیت ولري.

**دغه ستونزه څومره غټه ده؟**

اټکل کېږي چې تر ۱۰۰،۰۰۰ ټنه پورې قانوني یا غیري قانوني مهمات په عمدي یا غیرعمدي توګه په افغانستان کې د دولت له کنټرول بهر خواره واره دي. د ډېرو له پامه دي برسېره، د مهماتو عملي ملکیت نا څرګند دی. له ذخیره شویو مهماتو څخه ډېر داسې دي چې د افغان ملي اردو د وسلو د پلان شوي سیستم له مخې نور نو ورته اړتیا نه شته. خیني د دغو مهماتو خوندي او د کارولو وړ دي خو ډیر یې ناخوندي او له دې وروسته د کارولو وړ نه دي. په داسې حال کې چې د ماینونو او مهماتو ذخیرې سلګونو زره ټنو ته رسېږي، په افغانستان کې د مهماتو د اوسني حالت په هکله د توجیه وړ اندېښنې شته. که دغه مهمات راټول او تخریب نه شي کېدای شي د ناوړو موخو لپاره لکه په چاودېدونکو وسایلو کې وکارول شي. د دوی شتون په دومداره توګه د بې ګناه خلکو د مړینې او معلولیدو لامل ګرځي.

**ایا اوس هم د دغو مهماتو قربانیان شته؟**

افغانستان اوس هم د نړۍ یو له هغو هېوادونو څخه دی چې ډېر ماینونه لري. په منځنۍ ډول په هره میاشت کې ماینونه او ناچاودېدلي توکي ۶۰ افغانان وژني یا یې ټپیان کوي، چې نیم یې له ۱۸ کلونو څخه کم عمر لري.

د هیډیکیپ انټرنیشنل یوه سروې ښیي چې له اټکل شویو ۲۵ ملیونو وګړو څخه، نږدې ۵۰،۰۰۰ کسان داسې دي چې له ماینونو او مهماتو د خورو ورو ذخیرو را غونډول چې ساتنه یې کېږي د دې لپاره ترسره کېږي چې د مشروع مهماتو د ذخیرو له مرکزي کنټرول سره مرسته وشي.

ټول پرسونل ضد ماینونه چې په ذخیرو کې موندل کېږي، پرته له دې چې حالت یې په پام کې ونیول شي، د پلي کوونکو شریکانو له خوا له منځه وړل کېږي او ریکارډ یې ساتل کېږي. هغه مهمات چې د ټیم له خوا، د پلي کوونکو شریکانو د مشورې پر بنسټ، د ناکاره مهماتو په توګه تصدیق کېږي د پلي کوونکو شریکانو له خوا د له منځه وړلو په مرکزي ځایونو کې له منځه وړل کېږي.

**د افغانستان د نوي پیل پروګرام پلي کوونکي شریکان څوک دي؟**

د افغانستان د نوي پیل پروګرام دوه پلي کوونکي شریکان لري، هالو ټرسټ او UXB. دوی یو لړ ملاتړي ټیمونه لري چې د سروې، او مهماتو د لېږدولو او له منځه وړلو په برخه کې په بېلابېلو سیمو کې مرسته کوي.

**ایا دغه پروژه له داپاک سره تړلې ده؟**

عمومي پروژه د امنیتي سیکتور د هغو نورو پروګرامونو یوه متممه پروژه ده چې د

**وګورئ**

www.undpanbp.org

# د معلوماتو د اداري د خدمتونو پروژې د جغرافيايي معلوماتو د سيسټم (GIS) په کارونه کې د استثنايي کار لپاره جايزه تر لاسه کړه

د ملګرو ملتونو د پراختيايي اداري د معلوماتو د اداري د خدمتونو پروژې د جغرافيايي معلوماتو د سيسټم (GIS) په ډګر کې د ښه کار لپاره د کاليفورنيا د سينډياګو په ښار کې د چاپريالي سيستمونو د څيړنې د انسټيټيوټ (ESRI) د نړيوالو کارکوونکو په شپږويشتم کلني کنفرانس کې د جغرافيايي معلوماتو د سيسټم په برخه کې د ځانګړې لاسته راوړنې جايزه (SAG) وګټله.

د چاپريالي سيستمونو د څيړنې انسټيټيوټ، چې په نړۍ کې د جغرافيايي معلوماتو د سيسټم په برخه کې مخکښ رول لري، دغه جايزه هغو سازمانونو او ادارو ته ورکوي چې د جغرافيايي معلوماتو د سيسټم د ټيکنالوجۍ د کارونې له لارې خپل هوډ او ژمنه ښيي. د دغې جايزې ګټونکي د نړۍ له ۱۵۰,۰۰۰ څخه ډيرو سازمانونو تر منځ غوره کوي.
د چاپريالي سيستمونو د څيړنې د انسټيټيوټ رئيس جيك ډينګرمنډ وويل "د ساګ جايزه د جغرافيايي معلوماتو د سيسټم په ډګر کې د نوښتګرو د لاسته راوړنو او لرليد لمانځنه کوي." ده زياته کړه "هر ګټونکې خپلې ټولنې ته ګټې راوړي او نور هم عيني کار ته هڅوي."

د جغرافيايي معلوماتو سيسټم د کمپيوټر د هارډوير، سافټ وير او جغرافيايي معلوماتو يوه ټولګه ده چې د هر ډول جغرافيايي معلوماتو د راغونډولو، اداري، تحليل او ښودنې وړتيا لري. د جغرافيايي سيسټم کاروونکي کولی شي عمومي معلومات له ځايي مشخصو معلوماتو سره وتړي لکه خلك د اوسېدو له پتو سره، ودانۍ له پوستي پاکټونو سره، يا په يوه شبکه کې دننه کوڅې. دغه نوښتګره ټيکنالوجۍ استعمالوونکو ته دا توان ورکوي چې معلومات طبقه بندي کړي او د تحليل لپاره يې په لېدونکې بڼه باندې واړوي چې په پايله کې د خپلې ټولنې، کار او چاپريال په هکله ښه پوهېږي او اګاهانه پرېکړې ترسره کولی شي.

د افغانستان د معلوماتو د اداري د خدمتونو پروژه په افغانستان کې د جغرافيايي معلوماتو د سيسټم ټيکنالوجۍ د ملګرو ملتونو ادارو، حکومتونو، نادولتي کورنيو او نړيوالو مؤسسو او عوامو ته ورپېژني. دغه مؤسسه په ټول افغانستان کې د نخشو جوړولو، د ډنډې پر سر روزنې، لارښوونې اومشورتي خدمتونو له لارې د جغرافيايي معلوماتو د سيسټم د ګټو د خپرولو په لار کې سخت کار کوي.

ځيني نورو لاندې مؤسسې ته هم د ۲۰۰۶م کال په کنفرانس کې جايزې ورکړل شوې:
د بحرين د سلطنت شاهي محکمه؛ د متحده اياالاتو د جيوليجيکي سروې د لندو مځکو د څيړنې ملي مرکز؛ د اسټريا د جيوليوجيکي سروې اداره؛ د فيلاډيلفيا د ښاروال دفتر؛ د کانګريس کتابتون؛ د نوا سکوشيا د جغرافيايي علومو مرکز؛ د مسوري د بوټو باغونه؛ د فلوريډا د کارلوټ ولسوالۍ.

وګورئ
www.aims.org.af

وګورئ
www.esri.com

### د افغانستان د معلوماتو د اداري د خدمتونو پروژه (ايمز)

**د پروژې هدفونه**

ايمز دنده لري چې په ټول افغانستان کې د معلوماتو د اداري د لوړ کيفيت لرونکي خدمتونه او توليدات وړاندې کړي، د دولت اغيزمنتوب، کارکردګي او کاري ظرفيت لوړ کړي او د معلوماتو د اداري د سيستمونو ماهر کورني کاري ځواك ته پراختيا ورکړي. د ايمز يو غټ هدف دا دی چې د افغان دولت دننه د جغرافيايي معلوماتو د سيسټم او د مديريت د معلوماتو د سيسټم ظرفيت لوړ کړي.

ايمز د جغرافيايي معلوماتو د سيسټم د اګاهي او ګټو په هکله د دولت او مرستندويه ټولنې لپاره يو لړ ورکشافونه او سيمنارونه جوړوي.

### د کاروبار د ستونزو اوارول

د نږدې درېيو لسېزو جګړې د دولتي ادرو په پرزېدو، د بشري ځواك مهاجرت، سستې اقتصادي ودې، د معلوماتو د اداري کمزوري فعاليت، د اړينو تخنيکي مهارتونو نشتوالي، د مهارتونو د زده کولو، روزنې، هارډوير او سافټ وير جوړونې لپاره د وړ چاپريال نشتوالي کې غټه ونډه درلوده. ايمز هڅه کوي چې د ځکمنيو او فضايي ټيکنالوجۍ د اواري د لارو چارو، روزنې او مشورتي خدمتونو له لارې د افغانستان د دولت دننه د معلوماتو د اداري پايېدونکې زيربنا جوړه کړي. ډير وزراتونو اوس د جغرافيايي معلوماتو د سيسټم لابراتوارونه په واك کې لري چې د جغرافيايي معلوماتو د سيسټم په برخه کې روزل شوي کارکوونکي لري او دوی به په راتلونکي کې د ستونزو په اواري او پرېکړو کې د جغرافيايي معلوماتو له سيسټم څخه کار اخلي.

### استعمال شوې ټيکنالوجۍ

په لومړي سر کې ايمز د افغان دولت او نورو پراختيايي ادارو په روزنه کې د ArcView 3.x سافټ وير کاراوه. ډير وزراتونه له ArcView 3.x څخه کار اخلي او د ArcGIS سافټ وير ته د مخ اړولو پلانونه لري. يو څو وزارتونو لا له وړاندې د ArcGIS سافټ وير کارونه پيل کړې ده. هغو وزارتونو چې لا تر اوسه يې د ArcGIS سافټ وير په کارولو باندې پيل نه دی کړی د ArcView د کارولو په برخه کې ورسره مرسته کيږي.
ايمز يو کال کيږي چې د ArcView 3.x سافټ وير پر ځای د ArcGIS پر کارونې پيل کړی او د ESRI له خوا د ArcGIS تصديق شوی روزونکی لري.

**د پراختيا ورکوونکې ډلې لنډه پېژندګلوي**

د ايمز د جغرافيايي معلوماتو د سيسټم څانګه دوه برخې لري: د جغرافيايي معلوماتو د سيسټم پروژې او د جغرافيايي ملعوماتو د سيسټم په هکله روزنه.

د جغرافيايي معلوماتو د سيسټم د پروژو د ډلې مشري د ښاغلي احمد خالد اميني پر غاړه ده چې په دغه ساحه کې له تيرو اتو کلونو راهيسې کار کوي. دغه ډله کې د جغرافيايي معلوماتو د سيسټم د چارو دوه مرستيالان او درې تخنيکران هم شامل دي. د جغرافيايي معلوماتو د سيسټم د روزنې د ډلې مشري د ښاغلي علي احمد ولي پر غاړه ده چې له ESRI څخه د ArcGIS د ښوونکي په توګه تصديق شوی، په هېواد کې د جغرافيايي معلوماتو د سيسټم په ډګر کې پېژندل شوې څېره ده او په دغه ډګر کې تر ۱۵ کلونو ډيره تجربه لري.



# په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پراختیايي اداره په سیمه ییزو ستراتیژیکو پروګرامونو کې د مدني ټولنې د ګډون ملاتړ کوي

عبدالبصیر ستانیکزی، د پروګرام په چارو کې ملي مرستیال، د ملګرو ملتونو پراختیايي اداره

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پراختیايي اداره د ښه حکومت چلولو تر پروګرام لاندې د یوې مهمې ساحې په توګه د افغان مدني ټولنو ملاتړ ته ژمنه ده. په دې کې د هېواد په کچه په پالیسي او پروګرامونو کې د مدني ټولنې د ګډون ملاتړ، د ملګرو ملتونو د پراختیايي ادارې د پروګرامونو او پروژو په طرحه او پلي کولو کې د دوی د نظریاتو غوښتل او په سیمه ییزو او نړیوالو ستراتیژیکو غونډو کې د دوی برخه اخیستنه شامل دي.

د ملګرو ملتونو پراختیايي ادارې د ۲۰۰۶م کال د جولای په وروستیو کې په منګولیا او اندونیزیا کې شویو سیمه ییزو غونډو کې د د دوو مؤسسو د پلاویو له برخې اخیستې سره مرسته وکړه.

د بشري حقوقو د خپلواك کمېسیون، د مدنې ټولنې د بنیاد او د افغانستان د ملي پراختییايي ستراتیژۍ د مدنې ټولنې په استازیتوب یو درې کسیز پلاوی د منګولیا د اولانباتور په ښار کې د ولسواکۍ لپاره د اسیا د مدنې ټولنې په درې ورځنۍ غونډه کې برخه اخیستې وه. د دغې غونډې موخې دا وې چې د اسیا د ارام سمندر په سیمه کې د ولسواکۍ او د ولسواکۍ پلوه خوځښتونو حالت وارزول شي، هغه ننوګونې تحلیل شي چې دوی ورسره مخامخ دي، د ولسواکي پلوه مدنې ټولنې د خوځښتونو ځواکمنتیاوې او کمزورۍ وارزول شي، د دوی د لاډیرې ودې لپاره د دوی تر منځ اړیکو ته وده ورکړای شي، د دوی اغیزمنتوب ډیر شي او باالاخره په عام ګټو ساحو کې د تجربو او زده شوو درسونو د شریرکولو لپاره د مدنې ټولنې نړیوالې شبکې جوړې شي.

یو بل څلور کسیز پلاوي چې د مدنې ټولنې یو استازی، د افغانستان د ملي پراختیايي ستراتیژۍ یو غړی (د اسیايي پراختیايي بانك په مالي لګښت) او د ملګرو ملتونو د پراختیايي ادارې دوه کارکوونکي په کې شامل وو، د محلي حکومت روڼتیا او حساب ورکولو ته د ودې ورکولو او په عامه قرارادونو او پیرودنې کې د فساد د مخنیوي په هکله دوه ورځني ورکشاف کې چې د اندونیزیا په بالي ښار کې جوړ شوی و برخه واخیسته. د دغه ورکشاف موخې دا وې چې په عامه قراردادونو او پیرودنې کې د فساد د حالت په هکله، په اسیا او اروپا کې پر ځايي حکومت له ځانګړي تمرکز سره عمومي نظر وړاندې شي؛ په ځايي حکومتونو کې د روڼتیا او حساب ورکولو د ودې او په عامه قراردادونو کې د فساد د مخنیوي لپاره نوښتونه تر بحث لاندې ونیول شي، د ګډون کوونکو تر منځ د معلوماتو تبادلې او اړیکو رامنځته کولو ته وده ورکړای شي او په عامه قراردادونو کې د روڼتیا او حساب ورکولو د ودې په هکله روزنیز لارښود نهايي شي.

دواړو پلاویو په خپلو اړوندو ورکشافونو کې فعاله ونډه درلوده او د اړوندو مسایلو په هکله خبرو اترو کې ښکیل وو. "ما په بریالیتوب سره د منګولیا په ورکشاف کې د دې مسئلې په اړه چې د مدنې ټولنې سازمانونه څنګه حکومتي پروګرامونه او پروژې څارلی شي، د یو ګردي میز بحث مشري وکړه". فکر کوم د ولسواکي لپاره د اسیايي مدنې ټولنې له مجتمع سره به د افغانې مدني ټولنې د سازمانونو ثبتېدنه د افغانستان لپاره یوه ښه لاسته راوړنه وي.

د افغانستان د مدنې ټولنې د مجتمع استازي ښاغلي عزیز رؤفي چې د اندونیزیا د پلاوي غړی و وویل چې " زما لپاره دا یوه نوې تجربه وه چې په پیرودنې کې د روڼتیا او حساب ورکولو د زیاتوالي او د فساد د مخنیوي لپاره د عصري وسایلو د کارولو په هکله څه زده کړم لکه بریښنايي پیرودنه او د امانتداري تړونونه"




**د سیمه ییزو غونډو عمده لاسته راوړنې**

**منګولیا:**

● منګولیا ته تللي پلاوي څرګنده کړه چې دا د افغانستان لپاره یوه ستر بریالتوب و چې د ولسواکۍ د اسیايي مدني ټولنې له مجتمع سره ثبت یا راجستر شي.

● په منګولیا کې د مدني ټولنې د ورکشاف په ترڅ کې افغانستان د څارنې د پروژې لپاره د یو ازمیښتي هېواد په توګه غوره شو (نظریه داده چې اسیايي هېوادونه باید د څارنې یوه شبکه یا میکانیزم رامنځته کړي چې د هر هېواد د مدني ټولنې له سازمانونو سره د حکومتي پروژو او پروګرامونو په څارنه کې مرسته وکړي). د ورکشاف برخه والو پرېکړه وکړه چې یوه ازمیښتي پروژه باید په افغانستان کې پیل شي. د افغاني مدني ټولنې له سازمانونو سره به د دولتي فعالیتونو د څارنې په برخه کې مرسته وشي. د دې نوښت لپاره، د سهیلي کوریا پخواني ولسمشر د مالي ملاتړ ژمنه وکړه. د دغو تجربو او زده شوو درسونو په بنسټ به نور هېوادونه هم خپلې پروژې پیل کړای شي.
منګولیا ته د تللي پلاوي غړي د ولسواکۍ لپاره د مدني ټولنې راتلونکې نړیواله غونډه کې د ګډون لپاره ثبت او راجستر شول چې د نومبر په لومړیو ورځو کې به د قطر په دوهه کې جوړه او مالي لګښت به یې د قطر حکومت پر غاړه واخلي. د افغانستان د مدني ټولنې سازمانونه به هم په دغه غونډه کې ثبت یا راجستر شي.

**اندونیزیا**

● اندونیزیا ته تللي پلاوي له اسیايي پراختیايي بانك او د اقتصادي همکارۍ او پراختیا له سازمان سره د ستراتیژیك مشارکت لپاره د بنسټ تېګه کېښودله.

● د اندونیزیا پلاوي په سیمه کې د مدني ټولنې له همکاره مؤسسو او د فساد ضد نوښتونو له سازمانونو سره شبکې جوړې کړې.

● د روڼتیا له نړیوالې ادارې (Transparency International) او د دغې ادارې له ځینو سیمه ییزو څانګو سره یو څو مقدماتي تړونونو ته ورسېدل چې د افغانستان د مدني ټولنو له سازمانونو سره د دوی مرسته به تر غور لاندې نیسي او د کاري ظرفیت پر لوړولو او د تجربو د تبادلې په برخه کې به ځانګړی تمرکز کوي.

● د ملګرو ملتونو د پراختیايي ادارې له مرکزي دفتر سره یو مقدماتي تړون وشو چې افغانستان باید د پېرودنې د ظرفیت د ځان ارزونې د یو نوي میتود لپاره چې د ملګرو ملتونو پراختیايي ادارې او نړیوال بانك په ګډه پراختیا ورکړې، د ازمیښتي هېواد په توګه تر غور لاندې ونیول شي.
د روڼتیا د نړیوالې ادارې د مالیزیا له څانګې سره د مشارکت لپاره د بنسټ تېګه کېښودل شوه چې دوی به د ریښتینولۍ د خپل انستیتیوټ له لارې افغانانو ته د روزنې مواقع برابروي.

د ملګرو ملتونو پراختیايي ادارې د دواړو پلاویو له غړیو سره په ګډه د اګسټ پر ۱۴مه نېټه د افغاني مدني ټولنې د مجتمع په کوربتوب د مدني ټولنې نورو سازمانونو او غړیو ته په پراخه توګه د ترلاسه شوې پوهې او تجربې د شریکولو لپاره د راپور ورکولو یوه ناسته برابره کړې وه څو دوی له دغو معلوماتو څخه ګټه پورته کړي او ان تر ولایتي کچې پورې یې وویشي.

د ملګرو ملتونو د پراختیايي ادارې له خوا د مدني ټولنې ملاتړ ډیر مهم دی او د ښه حکومت چلونې په راتلونکو پروژو لکه د مدني ټولنې د ځواکمنولو پروژې، د فساد ضد پروژې او د ملګرو ملتونو د ځوانانو ګډ پروګرام او داسې نورو پروګرامونو کې به ځای ورکړ شي.

لیکوال: عبدالبصیر ستانیکزی، د پروګرام په چارو کې مرستیال، د ولسواکي او دمدني ټولنې د ځواکمنولو څانګه، د ملګرو ملتونو پراختیايي اداره.

## خصوصي سيکتور د معلولينو ملاتړ کوي




د ملګرو ملتونو د پراختيايي اداريِ د معلولينو د ملاتړ ملي پروګرام په افغانستان کې د خصوصي سيکتور د مرستې په مټ له معلولينو سره د كاراوبار په پيلولو کې مرسته کوي. د ۲۰۰۶م کال د اکسټ پر ۱۴مه نېټه د معلولينو د ملاتړ ملي پروګرام يو نيمه ورځنی ورکشاپ جوړ کړی و چې په ترڅ کې يې د کوکاکولا د کمپنۍ له خوا لس مرسته شوې غرفې په کابل کې پر معلولينو وويشل شوې. په ورکشاپ کې همدارنګه دوی ته د دغو غرفو د مناسبې اداري او چلونې په هکله معلومات ورکړل شول.

د معلولينو د ملاتړ ملي پروګرام په افغانستان کې خصوصي سيکتور هڅوي چې د هغو خلکو په ګډون چې بېلابېل ډول معلوليتونه لري د بې وزلو افغانانو په ژوند کې د ښه والي راوستو لپاره اخلاقي او ټولنيز مسؤوليت پر غاړه واخلي. د نوي پيل ملي پروګرام د افغاني ورتيا د پروژې تر نامه لاندې، چې معلولين کاروبار ته هڅوي، هڅه کوي چې خصوصي سيکتور په افغانستان کې معلولينو ته د معيشت د مواقعو او خوښوونو د ساحې په پراخه کولو کې لا ډير ښکيل کړي.

دغه ګډ پروګرام به له ابرار مؤسسې سره چې يوه ملي مؤسسه ده په ګډه ترسره شي او نوموړې مؤسسه به د لسوغرفو ګټه اخيستونکو ته ۴۰۰۰ امريکايي ډالر د بې سوده پور په توګه ورکړي څو په غرفو کې د پلورلو لپاره پرې سودا واخلي. هره غرفه کې به دوه کاركوونكي كار کوي او د کاروبار د پيلولو لپاره به د هرې غرفې څښتنان ۴۰۰ امريکايي ډالره ترلاسه کړي.

ښاغلي ميرويس سيال د کوکاکولا کمپنۍ استازي د دغه ورکشاپ په ترڅ کې هيله څرګنده کړه چې دغه نوښت به يو برياليتوب وي او نورې خصوصي کمپنۍ به هم وهڅوي چې معولين په خپل کار کې داخل کړي. ده پر کابل ښاروالۍ او نورو اړوندو چارواکو غږ وکړ چې دوی بايد دغو غرفو ته د اوبو او برېښنا ورکول باوري کړي.

ښاغلي ويس الدين سيراج د شهيدانو، معلولينو او ټولنيزو چارو وزارت سلاکار د خپلو خبرو په ترڅ کې وويل: " دا د کوکاکولا او ابرار مؤسسې يو ډير ښه نوښت دی او د دولت په توګه موږ غواړو نورې تصدۍ هم وهڅوو چې په ورته کار لاس پورې کړي. معلوليت په افغانستان کې يوه ستره ننګونه ده او نه حکومت او نه د ملګرو ملتونو اداري په هر اړخيزه توګه په يوازې سر د دوی مسايل اوارولی شي. موږ غواړو چې په دغه لار کې هر کس له ځان سره مل کړو."

## د ستنې له لارې د نشه يي توك د استعمالوونكو په منځ کې د ايچ.ای.وي/ايډز خورېدل د يوې سترې خورېدنې مخکنی ګام دی

**د كاناډا په تورنټو ښار کې د ايډز د ۱۶م نړيوال كنفرانس له پای ته رسېدو سره رضاءالكريم د ملګرو ملتونو د پراختيايي اداري او د ايچ.ای.وي/ايډز د كنټرول ملي پروګرام سلاکار په افغانستان کې د دغې ناروغۍ زياتېدونكي ګواښ ته كتنه کوي.**

افغانستان له ايچ.ای.وي/ايډز څخه پاك نه دی. د وينې د بانك د وينې كتنې سيستم لومړی ځل په ۱۹۸۹م کې دغه وايرس وموند. تر دغې نېټې راهيسې د جګړې او د څارنې او رپوټ وركولو د سيستمونو د نشتوالي له امله د ايچ.ای.وي/ايډز د خپرېدو په هكله ډير لږ څه ښكاره دي. د وينې بانكونه او د خپلخوښې پټې مشورې او وينې كتنې هغه څلور مركزونه چې په ۲۰۰۵م كال کې جوړ شوي د ايچ.ای.وي/ايډز د پېښو او شيوع په هكله د معلوماتو يوازينۍ سرچينه ده. تر دې دمه په لاس کې شته معلومات د ټول افغانستان استازيتوب نه کوي، ځكه چې يوازې هغه خلك او ډلې په کې راځي چې د وينې كتنې يادو شوو مركزونو ته ورغلي دي. په هر حال، اوسني شته معلومات په افغانستان کې د ايچ.ای.وي/ايډز د يوې راپورته كېدونكي اپيډمي كافي نښې لري.

د وينې بانكونه: له ۱۹۸۹ څخه تر ۲۰۰۵ پورې د وينې وركوونكو په ۱۲۶۲۹۷ نمونو کې د ايچ.ای.وي/ايډز ۷۲ مثبتې پېښې (يوازې د چټكو ټيستونو په نتيجه کې پرته له دې چې تصديق كوونكي ټيستونه وشي) موندل شوې دي (په افغانستان کې د ايچ.ای.وي/ايډز ۵۴ تائيد شوې پېښې موجودې دي). ډير د پام وړ ټکی دا دی چې د مثبتو پېښو كسانو لاندې خصوصيات درلودل: ٪۴۲ يې له پاكستان، ايران او نورو بهرنيو هېوادونو څخه راستانه شوي؛ ٪۵۸ يې په افغانستان کې دننه ژوند كاوه؛ تر ۱۹ ډيرې ښځې وي او نرډې ٪۴۶ يې په كابل کې اوسېدل. (منبع: د ايچ.ای.وي/ايډز د كنټرو د ملي پروګرام د ۲۰۰۶- ۲۰۱۰ ستراتيژيك پلان مسوده). د ۲۰۰۶م كال د جنوري-جولای معلومات په عامه توګه د ترلاسه كولو وړ نه دي.

د كابل د خپلخوښې پټې مشورې او وينې كتنې مركزونه: په ۲۰۰۵م كال کې جوړ شوي او د ستنې له لارې د نشه يي توكو د استعمالوونكو، د جنسي كاركوونكو او نورو مراجعينو لپاره د ثبت بېل محرم كتابونه ساتي. دغو مركزونو د ۲۰۰۵م كال په اوږدو کې دستنې له لارې د نشه يي توكو د استعمالوونكو **3.5 %** پر ايچ.ای.وي/ايډز اخته موندلي (ټول معاينه شوي=۳۳۸) او د نورو معاينه شويو مراجعينو **0.94%** يې پر ايچ.ای.وي/ايډز اخته وو (ټول معاينه شوي=۳۱۷) (منبع: د ايچ.ای.وي/ايډز د كنټرو د ملي پروګرام د ۲۰۰۶- ۲۰۱۰ ستراتيژيك پلان مسوده). د ۲۰۰۶م كال د جنوري-جولای معلومات په عامه توګه د ترلاسه كولو وړ نه دي.

د معلوماتو له محدوديت سره سره، پورتنی راپورته كېدونكي لړی څرګنده او ووېرووونكې ده: د كابل د نشه يي توكو په استعمالوونكو کې متمركزه اپيډمي ښه ځای نيولی دی. نړيوالې تجربې ښيي چې په دغو خلكو کې ناروغۍ په ډيره چټكۍ سره خپرېږي.

خو په څومره چټكۍ سره؟ پر يو څو بېلګو غور وكړئ: د هندوستان په منيپور کې د هغو نشه يي توكو د استعمالوونكو په منځ کې د دغه انتان كچه په ډيرې چټكۍ سره پورته شوه چې د ستنې له لارې يې نشه يي توكي اخيستل، په ۱۹۸۸م كال کې له ٪۱ څه په ۱۹۹۵ کې ٪۵۶ ته ورسېده (مؤخذ: د سارك د سل د ناروغۍ مركز، ايچ.ای.وي/ايډز د سارك په سيمه کې، ۲۰۰۴، نيپال). په ويتنام کې د ستنې له لارې د نشه يي توكو د استعمالوونكو په منځ کې د ايچ.ای.وي/ايډز شيوع په ملي كچه په ۱۹۹۶ کې له ۱. ۱۰ % څخه په ۲۰۰۲م کې ۳۲ % ته ورسېده. (مؤخذ: "د ايچ.ای.وي/ايډز اپيډيمي په ويتنام کې: د تكامل سير او غبرګون"، د ايډز زدكړه او مخنيوی، ۱۶ جلد، ګڼه: الف مل، ۲۰۰۴). دغه انتان بې له شكه د ستنې له لارې د نشه يي توكو له استعمالوونكو څخه د دوی د جنسي شريكانو له لارې عامو وګړو ته خپرېږي. دا يوازې د وخت خبره ده.

په كابل کې د ستنې له لارې د نشه يي توكو د استعمالوونكو په منځ کې د ايچ.ای.وي/ايډز د اپيډيمي راپورته كېدل څومره د انديښنې وړ ده؟ د يو نظر د ترلاسه كولو لپاره موږ كولی شو په ايران کې د ايچ.ای.وي/ايډز حالت ته وګورو. په ايران کې د نشه يي توكو د معتادينو د حالت په هكله د يوې لنډې عمومي كتنې له مخې: " د ايران د ايډز كورنۍ كمېټه اټكل كوي چې په ټول هېواد کې تر ۶۰۰۰۰ ډير ايچ.ای.وي مثبت كسان شته. اوسني اټكلونه ادعا كوي چې دغلته ۶۰- ۷۰ % پورې د ايچ.ای.وي انتقال د ستنې له لارې د نشه يي توكو د استعمالوونكو په منځ کې د ستنې د شريكولو له امله رامنځته كېږي. نو، په ايران کې د ايچ.ای.وي ستونزه په ابتدايي توګه د نشه يي توكو د معتادينو ستونزه ده."

نو، په كابل او د ستنې له لارې د نشه يي توكو په استعمالوونكو کې حالت هم د پام وړ او هم ويرووونكی دی. پر يو څو حقايقو غور وكړئ: په افغانستان کې لږ تر لږه ۷۵۰۰ كسان د ستنې له لارې د نشه يي توكو استعمالوونكي شته (د افغانستان د نشه يي توكو د استعمال د ۲۰۰۵م كال سروې) او د (كورنيو خيريه ادارو د نا چاپ شوو اټكلونو له مخې خو) دغه شمېر ان تر ۱۹۰۰۰ پور دی؛ د سواد ټيټه كچه، له ايچ.ای.وي/ايډز څخه لږه خبرتيا او د ستنې له لارې د نشه يي توكو د استعمالوونكو په منځ کې د نا محفوظې ستنې لګونې او جنسي كړنو شتون؛ د ستنې له لارې د نشه يي توكو استعمالوونكو ته د خدمتونو (كه چيرته وي) رسولو کې د شرم، له پامه غورځېدو او په پټه سره د ستنې له لارې د نشه يي توكو د استعمال له امله ستونزې.

منابع هم كمې دي. د خپلخوښې مشورې او كتنې د مركزونو، د كتنې د لنډ مهالو غيري رسمي مركزونو او د ستنو د تبادلې په څير خدمتونه محدود وسعت او پوښښ لري. د معلوماتو د

# د ملګرو ملتونو پراختیايي پروګرام

خپرولو، ښوونې، مشورې او د کانډومونو د ویشلو پروګرامونه نادر دي. په ټول هېواد کې په ګډه د ټولو پروګرامونو او خدمتونو ګټه یوازې یو څو سوه د ستنې له لارې د نشه یي توکو استعمالوونکو ته رسېږي.

له بلې خوا، څرګنده حکومتي تګلاره، پروګراونه او خدمتونه نشته او پلي کوونکې نادولتي مؤسسې هم کافي مالي، پروګرامي او تخنیکي ظرفیت نه لري چې تر غټې خطرې سره مخامخ ډلو لپاره خدمتونه ډېر کړي، زیان کم کړي، د انتان د خپرېدو مخنیوی وکړي او یوه محسوسه کېدونکې اغیزه ولري.

راتلونکې ګامونه ښکاره دي. دا ضروري ده چې په ملي کچه د سلوکي او سیرولوجیکي کتنو او د تګلارو او پرېکړو د ملاتړ د څېړنو له لارې، چې د ستنې له لارې د نشه یي توکو استعمالوونکي او نور له سختې خطرې سره مخامخ ډلې تر پوښښ لاندې ونیسي، د اوسني حالت په هکله ښه فهم تر لاسه شي. همغږې تګلارې، پرېکنده عمل او پرته له ځنډه د منابعو مختص کول او هدفمنو او هر اړخیزو پروګرامونو او خدمتونو ته اړتیا ده. د پلي کوونکو شریکانو، مدني ټولنې سازمانونو او د متاثره شوو ټولنو د ظرفیت لوړول باید چټک شي. د متاثره شوو او تر غټې خطرې سره د مخامخ ډلو د رواني حالت د اعادې او څواکمنولو کار باید پیل شي.

بالاخره، د داسې یو چاپریال رامنځته کولو ته اړتیا ده چې د ایچ.ای.وي/ایډز ګواښ په کې منل کېږي، چېرې چې د ایچ.ای.وي/ایډز پر وړاندې د مبارزې لپاره د لوړې کچې پراخ بنسټه ملاتړ وي او چیرې چې له ایچ.ای.وي/ایډز سره تړلی ټولنیز تبعیض او شرم په تدریجي ډول له ډیرې خطرې سره د مخامخ ډلو په منځ کې له منځه ولاړ شي.

## د ملګرو ملتونو د رضاکارانو د کار په هکله یو څو ټکي





په غولي ناسته، پښه مې پر پښې اړولې وه او زما افغاني انجینران او یو ډیر شمېر د کلي مشران راڅخه تاو وو، یوه او بله ټوکه مو سره شرېکوله او د غرمې له هغې ډوډۍ څخه مو خوند اخیست چې کلي موږ ته په میلمستیا کې برابره کړې وه. خو د ګرمې میلمه پالنې او د سپینږیرو له مهربانۍ ډکو مننو او تشکریو دومره نه یم خوشحاله کړې لکه څومره چې هغې خبرې چې کاریزونه او څاوې چې کارګرو په تیره میاشت کې راویستلې، پاکې کړې او خوندې کړې وې له پخوا څخه ۵۰ % ډیرې اوبه ورکوي په داسې حال کې چې د پروژې یوازې ۳۰ % کار بشپړ شوی دی. دا په دې مانا ده چې بزګران (کروندګر) به لا ډیرې ځمکې تر اوبو لاندې کړي، ښځې او ماشومان به اړ نه وي چې د مینځلو، پخلي، او صفایي لپاره لیرې ځایونو ته اوبو ته لاړ شي، هغه کډوال به، چې له بهره راستانه کېږي خپلو کلیو ته لاړ شي ځکه چې دوی به وکړی شي چې خپلې ځمکې وکري او مال ته به د ژوندي پاتې کېدو لپاره د اوبو ورکول ممکن شي. دغه ډول لحظې، له نورو کارکوونکو، دولتي چارواکو او البته کلیوالو سره د ګډ کار له لارې د یوې لاسته راوړنې خوښۍ او زما د پوهې له مخې لېږه بریا چې کېدای شي د خلکو د ژوندانه په راتلونکو څو لسېزو کې بدلون راولي زما ورځ او ان میاشت ښه تیروي او ما ته توانایي رابخښي، ان په داسې وخت کې چې په افغانستان کې تګ ډېر سخت شي.

زما لپاره د ملګرو ملتونو د رضاکار په توګه دلته په جلال اباد کې، چې د ختیځې سیمې مرکزي ښار دی، زموږ د کار پراخې او متنوعې ساحې ته په پام سره، له یوې ورته اونۍ څخه بل هیڅ شی ډېر مهم نه دی. د ملګرو ملتونو د پراختیایي ادارې د ښاري پراختیا ګروپ د خوراکي توکو او کرنې د مؤسسې په ملاتړ کې د جلال اباد په ښار او څلورو اطرافي ولسوالیو کې یو لړ زیربنایي پروژې پلي کوي، څو د خلکو عاید د کرنې له لارې لوړ کړي. دغه ټولې پروژې به د ښاري او کلیوالي زیربنا او بازارونو، اقتصادي مواقعو، روغتیا پالنې او روغتیا ساتنې چارو ته د لاس رسي د ښه کېدو په برخه کې مرسته وکړي. د دې په زړه پورې پروګرام د مدیر په توګه زما نقش له همدې امله رنګارنګ او ډېر خوندور دی. یوزاې په دې اونۍ اونۍ، زه د حکومتي چارواکو لپاره د پلان جوړونې، څارنې او ارزونې په هکله روزنې کې؛ په اطرافي ولسوالیو کې د کلیو له پراختیایي شوراګانو سره ناستې کې څو زموږ د پروژو ګډه کتنه ترسره کړو؛ د جلال اباد له ښاروال او والي سره ناسته کې، څو د یو نوي مارکیټ او مسلخ لپاره ځای معلوم کړو او د زیربنا هغه پروژې وڅارو چې همدا اوس پلي کېږي؛ د مختلفو ادارو مابینې او د امنیت د ادارې په غونډه کې؛ له ساحوي کارګرانو سره مرکو کې، چې ټول یې راستانه شوي کډوال یا پخواني جنګیالي دي، څو د ا جوته کړم چې د کار په بدل کې ورکول کېدونکې پیسې د دوی پر ژوند څومره اغېزه لري؛ زموږ د دفتر لپاره د دوو نویو کارکوونکو د ګمارنې لپاره د استخدام په بهیر او له خپلو همکارانو سره د هغو ننګونو د حل کولو په هکله غونډه کې شامله وم چې زموږ په کار کې

پېښ شوي وي او دا چې دوی په خپل کار کې وهڅول شي. يوه بله اضافي ننوګنه چې په مخ کې پرته ده، دا ده چې دوی په داسې حال کې چې د پروژې پای ته نږدې کېږو هڅانده او هیله من وساتل شي او زه هیله منه یم چې موږ به نوره مرسته هم ترلاسه کړو څو د افغان ولس د ګټې لپاره نور پروګرامونه پلي کړی شو او د يو ټيم په توګه خپل کار ته ادامه ورکړو.

تر لسو میاشتو ډېر وخت وشو چې زه دلته یم خو اوس هم د هر ورځني کار له لارې، هره ورځ يو نوی شی زده کوم: د افغانستان او د افغانستان د وګړو؛ د هېواد د تیر تاريخ او د بیا رغونې او پراختیا په لار کې د راتلونکیو اړتیاوو؛ د افغانانو د طرز فکر او عمل؛ د ټولنيزو او سیاسي جوړښتونو د بیاجوړونې؛ د ښاري پراختیا او تخنیکي مسایلو او د خپل ځان په هکله او دا چې له خلکو سره څنګه رويه کوم او د حالاتو او ننګونو په وړاندې څه ډول غبرګون ښکاره کوم. تر ډيره ځايه احساس کوم چې له هغه څه ډېر ترلاسه کوم چې بېرته يې ورکولی شم...

... زه کېدای شي د ورځې خوب وينم ځکه تر شا يوې غلې خندا له خپلو فکرو څخه جدا کړم. د کلي ماشومان له شاوخوا راټول شوي، وړو ماشومانو لنډ پرتوګونه اغوستي او خولې يې له خندا ډکې دي، وړې شرمناکې نجونې چې کله وروګورم نو مخ په ټکري پټوي... يو ځوان يو څه زړور و، راوړاندې شو او د مينې ډکه د چای يوه پياله يې راکړه چې افغانان يې هر چېرې چې لاړ شئ درکوي او د بېلتون پړې پرې کوي او د نااشنا خلکو تر منځ اړیکې ټینګوي.

يو بل مهم درس رایاد شو چې هره ورځ يې يادوم هغه دا ده چې کله چې په لاره سفر کوم او د ګاډي له کړکۍ د باندې ګورم، کله چې ښځو ته کور ته دننه ورځم او له ما سره نارينه ژباړونکی د ننوتو اجازه نه لري، يو له نادرو واقعاتو څخه کله چې په ښار کې د خپلو پروژو پر څارنه بوخته يم نو له ليرې د يوې غلې موسکا، له ليرې لاس ښورولو يا کله چې د اړيکو نورې ټولې لارې پاتې راشي نو د سترګک تر شا ډېر څه زده کېږي.

وګورئ
www.unvafghanistan.org

## د ملګرو ملتونو پراختیایي اداره له دولت سره د پارلمان او ملکي خدمتونو له ملاتړ څخه نیولې د اشارې ژبې تر پراختیا پورې ګڼ کار کوي

د ۲۰۰۵ کال په وروستيو کې د افغانستان د پارلمان دروزاې له څو لسېزو څخه وروسته د لومړي ځل لپاره پرانیستل شوې. د ۲۰۰۶م کال په لومړیو میاشتو کې افغان ولس د پارلمان نویو غړو ته، په داسې حال کې چې دوی خپل سیاسي کار پیل کاوه، په ایرانتیا سره کتل. ملیونونه افغانان د ټلویزیون هغه پروګرام ته لېواله او ټینګ ناست وو چې د ولسمشر کرزي نوموليو وزيرانو څخه کېدونکې پوښتنې يې ژوندۍ خپرولې. دلته ولسواکي په عمل کې پلې کېدله، د پارلمان نويو غړيو خپله سیاسي لار موندله او د افغانستان پر اجرايي بنسټونو يې خپلې څارنې ته پراختیا ورکوله.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پراختیایي اداري ډېرو مهمو پروژو په دې لار کې ډېر زيات کار کړی دی. د افغانستان د مقننه قوې د ملاتړ دوه کلنه پروژه (سیل) چې تر ۱۵مليونه ډالره ډېره بودجه لري د پارلمان او د پارلمان له غړو او کارکوونکو سره د روزنې او وسایلو مرسته کوي څو په افغانستان کې يوه اغيزمن مقننه ځواك ځای ونيسي. د همدغو پروژو له لارې د ولسي جرګې او مشرانو جرګې غړو په کابل او بهر کې په ډېرو روزنيزو کورسونو، سيمنارونو او ورکشافونو کې برخه اخيستې ده. د ۲۰۰۵ کال په وروستيو کې د پارلمان د غړو سروې ښيي چې دوی د انګريزې ژبې او کمپيوټر له کورسونو او بهر ته له سفر سره لېوالتيا لري. د ملي شورا دارالانشاء او همدارنګه د ملي شورا باورليك لرونکو خبرياﻻنو ته هم روزنه ورکړای شوې ده. د پارلمان کتابتون او نور اساسي وسایل لکه کمپيوټرونه، کمرې او مايکروفونونه ځای پر ځای شوي دي.

د پارلمان په دې وروستۍ رخصتي کې د ملګرو ملتونو د پراختياي ادرې د سيل پروژې د پارلمان د غړو لپاره په خپلو انتخاباتي حوزو کې له ټاکوونکو سره د لېدو کتو لپاره يو شمېر غونډې برابرې کړې وي. په وردګو، باميانو او کندز کې د پارلمان غړيو د مدني ټولنې، خبري رسنيو او خپلو ټاکونکو له استازو سره وکتل. د رخصتي د مودې ولسي پوهاوی په لسو ولايتونو کې ترسره شو څو له کابل څخه بهر ټاکونکي هم له پارلماني بهير څخه خبر شي.

د ملګرو ملتونو پراختيايي اداري د مرکزي دولت د اداري بنسټونو په جوړولو کې مخکښ نقش لوبولی څو په راتلونکې کې د عادي دولتي بيوروکراسي په توګه کار ته ادامه ورکړي. په دې ورستيو کې له اسيا فاونډيشن سره د ۱۰,۶ مليونو ډالرو تړون به د افغانستان د ولسمشر د دفتر په ګډون د مرکزي اجرايي بنسټونو له پراختيا سره لاډيره مرسته وکړي. دغه پروژه به د چارو د ادارې، د وزيرانو د شورا د دارالانشاء او د ولسشمر د دفتر کاري وړتيا د دوی د اداري جوړښتونو، کړنلارو، دفتري وسايلو او اسانتياوو، معلوماتي ټکنالوجۍ او د تګلارې د همغږۍ د بهير د نوي کولو له لارې پياوړې کړي.

د دولت د پراخه بنسټونو په کچه د ملګرو ملتونو پراختيايي اداره د افغانستان د راتلونکو مشرانو لپاره د بنسټ تېګه ږدي. شا او خوا ۵۵۰ لوړ پوړي ملکي دولتي کارکوونکي د ملکي خدمتونو د مشرتابه د روزنې په يو دوه نيم کلن بهير کې تر روزنې لاندې نيول کېږي. دغه بهير د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژۍ د پلي کولو او په عين وخت کې د بالقوه ځوانو کارکوونکو په ګوته کولو موخه لري. د همدې پروژې له لارې ۱۵۰ ستاژران چې ۵۰ يې ښځې دي، په بېلابېلو وزارتونو کې د کار تجربه او روزنه ترلاسه کوي.

د ملګرو ملتونو پراختيايي اداره تل د بدلون او له خلکو سره د ښه ژوند د برابرولو لپاره د مرستې په برخه کې مخکښ رول لوبوي. افغانستان له درې لسېزو جګړې څخه وروسته د نړۍ د ټولو هېوادونو په منځ کې د پراختيا پر وړاندې له سترو ننګونو سره مخ دی. د غټو پروژو تر څنګ وړې پروژې هم بايد له پامه ونه غورځول شي.

جګړې په افغانستان کې په ډراماتيکه توګه ډېر خلك زيانمن او معلول کړي دي. اټکلونه ښيي چې تر دوو مليونو ډېر خلك يو نه بل ډول فزيکي معلوليتونه لري. په دې شمېرو

اوومه پاڼه



کې هغه ناوړه دماغي اغیزي نه دي شمېرل شوي چې کېدای شي د ناوړه پېښو د لیدو یا د لوري کچې کورني تاوتریخوالي له امله رامنځته شوي وي.

ملګري ملتونه د ټولي نړۍ په کچه هر کس ته په خپله ټولنه کې د فعاله نقش لوبولو د موقع د برابرولو او په همدي موخه د خلکو د هڅولو په برخه کې ستر نقش لري. په افغانستان کې د طالبانو د رژیم له لګول شویو محدودیتونو وروسته دغه بهیر تر بل هر وخته ډیر مهم دی. شا او خوا ۷۵ په سلو کې معلول ماشومان ښوونځیو ته نه ځي او په سلو کې اتیا معلولین کار نه لري.

د ملګرو ملتونو د پراختیایي اداري د معلولینو د ملاتړ ملي پروګرام په هېواد کې یو ځواکمن غږ په نښه کړی دی. په افغانستان کې د جګړي قربانیان درناوی ترلاسه کولی شي، ډیر د پارلمان او د مدني ټولني مخکښ غړي او وزیران یو نه بل ډول معلولیت لري خو ډیر څله دوی او نور هېرول کېږي. د معلولینو د ملاتړ ملي پروګرام د شهیدانو، معلولینو او ټولنیزو چارو وزارت سره ګډ کار کوي خو معلولین او د دوی ستونزي له پامه ونه غورځول شي او دا چې دوی ته د زدکړي او کار موقع برابري شي.

د معلولینو د ملاتړ ملي پروګرام همدارنګه د افغانستان د لومړنی اشاري ژبي په پراختیا کې مخکښ نقش لوبوي. په اټکلي توګه په افغانستان کې ۱۰،۰۰۰ داسي کسان ژوند افغانستان کې ۱۰،۰۰۰ داسي کسان ژوند کوي چې غږ نه اوري. دا کېدای شي غټ شمېر تر سترګو نه شي خو په ډېرو اسانی سره کېدای شي دوی په پراخه پراختیایي انځور کې هېر شي. اوس د افغانستان اشاري ژبه له نویو اشارو او ګرامر سره ښه پر مخ ځي. د معلولینو لپاره همدارنګه یو معلوماتي مرکز چې په بشپړه توګه د لاس رسي وړ دی په کابل کې جوړ شوی دی. دغه نمونه یي مرکز، چې په افغانستان کي د خپل ډول لومړنی مرکز دی، د معلولینو لپاره د پناه ځای دی او ورته مرکزونه په جلال اباد، کندهار او مزار کې هم جوړېږي.

د پارلمان او د مرکزي دولتي بنسټونو غښتلي کول او معلولینو ته د افغانستان په بشپړ ژوندانه کې د برخې اخیستو د موقع برابرول یو خو له هغو ساحو څخه دي چې د ملګرو ملتونو پراختیایي اداره په کې کار کوي. ملګري ملتونه په افغانستان کې له ۵۰ کلونو راهیسي کار کوي. د ملګرو ملتونو پراختیایي اداره له دغه هېواد سره د پراختیایي مرستو او بنسټونو جوړولو په برخه کې مخکښ نقش لوبوي. د بې وزلي کمول، ولسوالۍ حکومت او د کړکیچ مخنیوی او رغونه به د تیر په څیر په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پراختیایي اداري د کار عمده ساحي وي.

د مقالي لیکوال: ډومینیک میلډي، د ملګرو ملتونو د پراختیایي اداري د رسنیو د اړیکو مسؤول

د ملګرو ملتونو پراختیایي ادراه:

**وګورئ**
www.aims.org.af





**د لازیاتو معلوماتو لپاره:**

**ډومنیک میډلي، د خبري رسنیو د اړیکو مسوول**
+۹۳ (۰) ۷۰ ۶۹۱ ۹۸۵
dominic.medley@undp.org

**عزیز الرحمن ګلبهاري، د اطلاعاتو او نشراتو مسوول**
+۹۳ (۰) ۷۹۹ ۳۷۰ ۵۶۷
aziz.gulbahari@undp.org